ته چې کُوم کلام ګورې نو هغه رښتوني دې.

کۀ ته موقع ورکړې نو دا به ستا ژوند بدل کړی.

ځکه چې دا د خدائ پاک خبرې دی.

هغه ستا سره مینه کوی.

او هغه داسې پلار دې چې په ټول ژوند کښې یې ستا لټون کولو.

دا ستا د پاره د هغۀ د مینې خط دې.

# د خدائ پاک د طرف نه تا ته یو عام خط

## *زما بچیه...*

کېدې شی چې تهٔ ما نهٔ پېژنې، خو ما ته ستا د هر څیز پته ده. زبور ۱۳۹: ۱

کله چې تهٔ پاڅې یا کښېنې نو ما ته پته وی. زبور ۱۳۹: ۲

ما ته ستا د ټولو کارونو پته ده. زبور ۱۳۹: ۳

ستا په سر باندې ټول وېښتهٔ هم شمېرلې شی متی ۱۰: ۲۹-۳۱

ځکه چې تهٔ زما په صورت باندې پیدا شوې وې. پیدائښت ۱: ۲۷

زما په ذریعه ستا ژوند ستا چال چلن او ستا ذات دې. اعمال د رسولانو ۱۷: ۲۸

ځکه چې تهٔ زما اولاد یې. اعمال د رسولانو ۱۷: ۲۸

ما ته ستا د هغې نه مخکښې پته وه چې لا د مور په خېټه هم نهٔ وې. یرمیاه ۱: ٤-٥

کله چې ما د پیدائښت منصوبه جوړوله نو ما تهٔ غوره کړې وې. د افسیانو په نوم خط ۱: ۱۱-۱۲

تهٔ په غلطی سره نهٔ یې راغلې، ستا ټول عمر زما په کتاب کښې لیکلې شوې دې. زبور ۱۳۹: ۱۵-۱٦

ما ستا د پیدائښت او ستا د اوسېدو صحیح ځائ مقرر کړې دې. اعمال د رسولانو ۱۷: ۲٦

تهٔ د یرې او عجیبه طریقې سره پیدا شوې وې. زبور ۱۳۹: ۱٤

ما تهٔ د مور په خېټه کښې یو ځائ کړې. زبور ۱۳۹: ۱۳

او د پیدا کېدو په ورځ باندې مې ظاهر کړې. زبور ۷۱: ٦

څوک چې ما نهٔ پېژنی نو هغوئ زما د نوم بدنامی وکړه. یوحنا ۸: ٤۱-٤٤

زۀ لرې او په قهر نۀ يم، زۀ د مينې پورا اظهار يم. د يوحنا په نوم اول خط ٤: ١٦

زما آرمان دا دې چې زۀ ستا سره بې حده مينه وکړم. د يوحنا په نوم اول خط ٣: ١

دا صرف په دې وجه چې تۀ زما بچې او زۀ دې پلار يم. د يوحنا په نوم اول خط ٣: ١

زۀ تا له ستا دنياوی پلار نه ډېر څۀ درکوم. متی ٧: ١١

ځکه چې زۀ مکمل پلار يم. ٥: ٤٨

تا ته چې هر يو ښۀ نعمت ملاوېږی نو هغه زما د طرف نه وی. يعقوب ١: ١٧

ځکه چې زۀ ستا د پاره بندوبست کوم او ستا ټول ضرورتونه پورا کوم. متی ٦: ٣١-٣٣

زما منصوبه ستا د مستقبل ده چې هميشه د اميد نه ډک وی. يرمياه ٢٩: ١١

ځکه چې زما سره مينه د هميشه د پاره ده. يرمياه ٣١: ٣

زما ستا د پاره سوچونه دومره ډېر دی لکه چې د سمندر په غاړه ځومره شګې دی. زبور ١٣٩: ١٧-١٨

او زۀ د ثناء صفت سره په تا باندې خوشحالی کوم. زکرياه ٣: ١٧

زۀ به ستا سره ښګېړه کول هيڅ کله نۀ پرېږدم. يرمياه ٣٢: ٤٠

ځکه چې تۀ زما قيمتی اثاثه يې. هجرت کتاب ١٩: ٥

زما آرمان دې چې زۀ تا د زړۀ د اخلاصه آباد کړم. يرمياه ٣٢: ٤١

او زۀ تا ته لوئ او عجيبه کارونه ښودل غواړم. يرمياه ٣٣: ٣

کۀ تۀ د زړۀ د اخلاصه زما طلب کوې نو زۀ به تا ته ملاو شم. استثناء ٤: ٢٩

زۀ سره خوشحال اوسه او زۀ به ستا د زړۀ آرمانونه پورا کړم. زبور ٣٧: ٤

ځکه چې زۀ هغه ذات يم چې تا له مې آرمانونه درکړی دی. د فليپيانو په نوم خط ٢: ١٣

زۀ ستا د پاره د هغې نه هم زيات څۀ کولې شم چې ستا په خيال او تصور کښې به هم نۀ وی. د افسيانو په نوم خط ۳: ۲۰

ځکه چې زۀ ستا ډېره زياته حوصله افزائی کوم. د تسلونکيانو په نوم خط ۲: ۱۶-۱۷

زۀ هغه پلار هم يم چې هغه تا له د ټولو تکليفونو نه آرام درکوی. د کورنتيانو په نوم دويم خط ۱: ۳-٤

کله چې تۀ پرېشانه يې، نو زۀ تا ته نزدې يم. زبور ۳٤: ۱۸

لکه چې يو شپون ګډُورې وری نو زۀ تا هغه شان په زړه پورې نزدې وړم. مکاشفات ۲۱: ۳-٤

او زۀ به ستا هغه ټول تکليفونه لرې کړم چې په دې دنيا کښې درباندې تېر شوی دی. مکاشفات ۲۱: ۳-٤

زۀ ستا پلار يم، او زۀ ستا سره د خپل زوئ مسيح په شان مينه کوم. يوحنا ۱۷: ۲۶

هغه زما د ذات صحيح نمائندګی کوی. د عبرانيانو په نوم خط ۱: ۳

هغه د دې اظهار د پاره راغلو چې زۀ ستاسو يم نۀ چې ستاسو خلاف يم. د روميانو په نوم خط ۸: ۳۱

او چې تاسو ته ووايم چې زۀ ستاسو د ګناهونو حساب نۀ لګوم. د کورنتيانو په نوم دويم خط ٥: ۱۸-۱۹

مسيح د دې د پاره مړ شو چې زما او ستاسو روغه وشی. د کورنتيانو په نوم دويم خط ٥: ۱۸-۱۹

د هغۀ مرګ ستاسو سره زما د ډېرې زياتې مينې اظهار وو. د روميانو په نوم خط ۸: ۳۱-۳۲

کۀ تا ته زما د زوئ مسيح نعمت ملاو شی، نو تا ته به زۀ ملاو شم. د يوحنا په نوم اول خط ۲: ۲۳

او بيا به تا زما د مينې نه هيڅ څوک هم بېل نۀ کړی. د روميانو په نوم خط ۸: ۳۸-۳۹

توبه وباسه نو زۀ به هغه لويه خوشحالی جوړه کړم چې آسمانونو کله ليدلې نۀ وی. لوقا ۱٥: ۷

زۀ هميشه پلار وم، او هميشه به پلار اوسم. د افسيانو په نوم خط ۳: ۱٤-۱٥

زما سوال دا دې چې تۀ به زما زوئ جوړ شې کۀ نه؟ يوحنا ۱: ۱۲-۱۳

زۀ ستا انتظار کوم. لوقا ۱۵: ۱۱-۳۲

د مينه سره، ستا پلار

*خدائ تعالی*